# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوې مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۴مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۴مه | ۵۹۳ مه ګڼه
2 017550 139621


# د بین الافغاني مذاکراتو دویمه ورځ؛
## دواړه لوري له مذاکراتو خوښ او د اوربند پر رامنځ ته کولو خبرو ته تیار دي



۳

د خبرو لپاره پر اجنډا اختلاف او حللاره
۲ مخ

له ښوونکو سره د شي جین پینګ مینه او هغوی ته درناوی
۲ مخ

اروپا و ترکیه؛ بسیار دور چنین نزدیک
۳ مخ

## اتمر: هڅه کوو چې له طالبانو سره پر یوه سراسري اورکم او اوربند هوکړې ته ورسیږو

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست حنیف اتمر وايي، هڅه کوي چې پر یوه سراسري اورکم او اوربند له طالبانو سره هوکړې ته ورسیږي.
کابل ته له روانېدو وړاندې اتمر په دوحه کې خبریالانو ته وویل، د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو نه مخکې د دواړو لوریو تخنیکي ډلو سره کتلي دي.
خو بل لور ته د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي چې تر اوسه د تخنیکي ډلو کتنه نه ده شوې. اتمر بي بي سي ته ویلي چې د ناستې پر دویمه ورځ یې له مقابل لوري سره مخامخ خبرې کړې دي. د هغه په وینا: «زموږ هیله دا ده چې په لومړي پړاو کې اورکم وشي... موږ د طالبانو او افغان حکومت د استازو ترمنځ مخامخ خبرې درلودې او د اجنډا سر کې به اوربند وي.»
حنیف اتمر وايي، اوربند به د طالبانو لپاره ګران وي، چې خپل جنګیالي قانع کړي، خو یوازې یوه لاره شته چې دوی یوه خپلواک او دیموکراتیک افغانستان ته ژمن پاتې شي، چې دا کار اوربند او اورکم کمولو ته د ژمن پاتې کېدو له لارې ممکن دی.
تر دې وړاندې اتمر دغه راز ویلي وو چې ایران د افغان سولې د بهیر ملاتړ کوي، وړمه ورځ یې په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو په غونډه کې ځکه استازی نه درلود چې له امریکا سره یې لا هم اړیکې ښې نه دي.

## امریکا هېچا ته اجازه نه ورکوي چې په افغان سوله کې د ملي ګټو پرځای شخصي ګټې وپالي




۵ مخ


ولایت
۴ مخ

## بادغیس

په بادغیس کې ۴۶۰ ښوونځي فعال دي، چې ۸۰ یې لیسې او پاتې نور یې ابتدایه او منځنۍ ښوونځي دي. په دغه ولایت کې ۱۲۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې نجونې دي.



## کرنې ریاست: روان کال به د خوست د جلغوزیو په حاصلاتو کې ۲۵ سلنه ډېروالی راشي



د خوست د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي چې روان کال به د دغه ولایت د جلغوزیو په حاصلاتو کې ۲۵سلنه زیاتوالی راشي.
د خوست د کرنې ریاست د چارواکو په خبره، د جلغوزیو د ځنګلونو ارزونه ښيي، چې د دغې مېوې سږني حاصلات به ۱۸ زره او ۶۰۰ ټنو ته ورسیږي، چې د تېرکال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښيي. د یاد ولایت د کرنې رییس حفیظ‌الله شاه نوري زیاتوي: «روان کال کې به د دغه ولایت له ځنګلونو څه باندې ۱۸ زره او ۶۰۰ ټنه جلغوزي لاسته راشي، دا په داسې حال کې ده چې دغه شمېره تېر کال ۱۵ زره ټنه وه.»
د یادونې ده چې خوست، پکتیا، پکتیکا، کونړ، لغمان، نورستان او کاپیسا ولایتونه د جلغوزیو ډېر ځنګلونه لري او یوازې د خوست او پکتیا په ولایتونو کې څه باندې ۴۰ زره کسان په دې برخه کې په کاروبار او د جلغوزیو په راټولولو بوخت دي.

## شورای امنیت ملی: صلح با طالبان سرکوب گروه‌های تروریستی دیگر را آسان می‌کند



شورای امنیت ملی افغانستان گفته است که پس از صلح با گروه طالبان، گروه‌های تروریستی خارجی بستر امن فعالیت خود را از دست می‌دهند.
جاوید فیصل، سخنگوی این شورا به رادیو آزادی گفته است: «با خوارج صلح نمی‌شود. آنها اتباع این کشور نیستند. صلح تنها با افغان‌ها شده می‌تواند. زمانی که با طالبان صلح شود، دیگر گروه‌ها در اینجا بستر مصون فعالیت‌های‌شان را از دست می‌دهند و گلیم‌شان به آسانی جمع می‌شود.»
حضرت عمر زاخیلوال، سفیر پیشین افغانستان در پاکستان گفته است که هرگاه طالبان به یک نتیجه برسند، گروه‌های کوچک دیگر نیز باقی نمی‌مانند، هر زمانی که طالبان آتش‌بس کرده‌اند، رویدادها کم‌تر بوده یا وجود نداشته است.
به گفته آقای زاخیلوال، در حال حاضر حکومت افغانستان و گروه طالبان در مذاکرات صلح افغانستان در قطر هم فرصت دارند و هم مشکلات. به گفته وی هر دو طرف باید از فرصت به دست آمده استفاده بهتر کنند. در همین حال، محب شریف آگاه مسایل صلح، معتقد است که ادامه جنگ پس از توافق صلح حکومت و طالبان، تابع اوضاع خواهد بود: «هرگاه طالبان روابط خود را با القاعده قطع کنند و با تنظیم‌هایی که در کابل و ولایات قرار دارند، قطع کنند، چگونه این گروه‌ها باقی خواهند ماند؟ اکثر گروه‌هایی را که حکومت از آنها نام می‌برد، مانند کسانی که از پاکستان یا آسیای میانه و دیگر کشورها به افغانستان آمده و در امور داخلی این کشور مداخله می کردند، از بی‌نظمی‌ها به نفع خود استفاده کردند.»




دریــځ

## د خبرو لپاره پر اجنډا اختلاف او حللاره

پـه دوحـه کـې د دواړو اړخونـو د پـلاوو ترمنـځ د تمـاس ګـډ کمېسـیون جـوړ شـوی، خـو لا هـم د خبـرو لپـاره پـر اجنـډا توافـق نـه دی شـوی. د اجنـډا تـر ټـاکل کېـدو وروسـته بـه رسـمي او مخامـخ خـبرې کېـږي. لـه وړانـدې د دواړو اړخونـو لـه خـوا د اجنـډا پـه اړه متفاوتـې څرګندونـې شـوې وې. د حکومـت لپـاره دا مهمـه ده چې طالبـان اوربند ومني، خـو طالبـان بیـا هڅـه کـوي چـې د نظـام ځرنګوالـی او د پاتـې طالـب بندیانـو خوشـې کـول د خبـرو پـه اجنـډا کـې شـامل کـړي.
دواړه اړخونـه بـه هڅـه وکـړي چـې خپلـې غوښـتنې د اجنـډا برخـه کـړي او د بـل لوري غوښـتنې لـه اجنـډا وغورځـوي. لـه همـدې املـه ښـایي سـتونزې هـم رامنـځ تـه شـي. دا سـمه ده چـې هر لـوری باید خپلې غوښـتنې د اجنـډا برخـه کـړي، خـو بایـد ومنـي چـې د بـل لـوري غوښـتنې هـم بایـد د اجنـډا برخـه شي. دا چـې دا غوښـتنې بیـا معقولـې دي او کـه نـه، منـل کېـږي او کـه نـه او یـا هـم کـوم دربیـم حل ورتـه پیدا کېږي، دا بـه بیا په بین الافغـاني خبـرو کـې معلومېـږي. د اوس لپاره دا هڅه سـمه نه ده چـې د بل لوري خبرې او غوښـتنې لـه اجنـډا و ایسـتل شي. اوس باید هـره غوښـتنه اجنـډا تـه شـامله شي او بحث پـرې وشـي. یـوازې اسـلام او د افغانسـتان سـترې ګټـې هغـه څه دي چې پر منلـو او نه منلـو یـې بحـث نـه شي کېـدای، لـه دې پرته پـر هـر څـه بایـد بحـث وشي. د نظـام ډول، جمهوریـت، امـارت، اوربنـد، بندیـان، موقـت حکومـت، د امنیتـي ځواکونـو برخلیـک، د طالـب جنګیالـو برخلیک او ټولـې هغه چارې چـې پـه اړه یې متفاوت دریځونه شـته، باید د خبـرو د اجنـډا برخه شي او بحث پرې وشي. لـه بحـث څخه د موضوعاتو ایسـتل نـه یوازې اوس پـر اجنډا د توافق په برخه کې سـتونزې جـوړوي، بلکـې پـه راتلونکـي کـې هـم د سـتونزو سبب کېدلی شي. اوس د سرو کرښو وخـت تېـر دی، پـه هـر څـه بایـد واضـح او روښـانه بحث وشي او توافقـي پایلې تر لاسـه شي. کـه پـر ځینـو مسـایلو توافـق سـتونزمن او یـا ناشـونی وي، پکار ده چـې ولس تـه مراجعـه وشـي. د دې تـر څنـګ د نظـام پـه شـان لوی مسایل هم بایـد د ولس ارادې ته پرېښـودل شي. د نظام پـه اړه د طالبانـو او حکومـت غوښـتنې یـا د نظام ځرنګوالی باید ټولپوښـتنې تـه وړانـدې شي او پـه دې اړه بـه وروسـتی پرېکـړه خلک کوي. لـه همدې امله پـه هـر څـه بایـد بحـث وشـي، خـو پـه ځینـو مسـایلو کـې وروسـتۍ پرېکـړه بایـد ولـس تـه پرېښـودل شـي.
د ولس هیلـه ده چـې دواړه اړخونـه پـر اجنډا هم ژر توافـق وکړي، ځیني پرمختګونه وشي. دا هـم نـه هېرېـږي چې ښـایي ځینـي جدي سـتونزې هـم رامنـځ تـه شـي. دواړه اړخونـه مجبـور دي چـې دا سـتونزې هـم د خبـرو لـه لارې حـل کـړي، دوی بـه پـه دې چـاره کـې د امریـکا او بـل بهرنـي فشـار سره هـم مخ کېـږي، خـو دوی باید د بهرني فشـار پر ځای د ولس غوښـتنو ته لومړیتـوب ورکړي او ټولې سـتونزې پخپلـه حـل کـړي.

# له ښوونکو سره د شي جین پینګ مینه او هغوی ته درناوی


**لیکنه: غاټول**
د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې خبریال



د سـپټمبر نهمـه نېټـه پـه چیـن کـې د ښـوونکو لـه شـپږ دېرشـمې کالیـزې سره برابـره ده. د چیـن د دولـت رییـس شي جیـن پینـګ ښـوونې تـه ډېـره پاملرنـه کـوي او د ښـوونکو ډېـر درنـاوی کـوي. هغـه وایـي چـې ډېـرو ښـوونکو درسـونه را کـړي او خپـل اسـتادان تر اوسـه راتـه یاد دي. دوی پوهنـې او د ژونـد پـه بـاب ډېـر معلومـات را کـړي او ډېـرې ګټـې مې ترې اخیسـتې دي. د چین د کمونېسـت ګوند د مرکـزي کمېټـې د عمومـي منـشي پـه توګـه له ټـاکل کېـدو راهیسـې شي جین پینـګ څـو ځـو ځلـه ښـوونځیو تـه ولاړ او هلتـه یـې له ښـوونکیو سره د زړه خواله او خـبرې وکـړې. هغـه هـر وخـت وایـي چې ښـوونه د دولتـي پرمختـګ بنسـټ دی او ښـوونکي د ښـوونې ریښـه دي. لـه دې څخـه ښـکاري چـې هغـه تـل ښـوونې تـه لومړیتـوب ور کـوي.
د ۲۰۱٦ کال د ښـوونکو لـه ورځـې مخکـې رییـس شي جیـن پینـګ د بېجینـګ د بایـي پـه نـوم لـه ښـوونځي څخـه لیدنـه وکـړه، چـې پـه خپلـه یـې پـه همـدې ښـوونځي کـې زده کـړې کـړې دي. هغـه لـه خپلـو ښـوونکو څخـه د حال او احـوال پوښـتنه وکـړه او ورتـه یـې وویل، زه خوشـاله یـم چـې خپـل ښـوونکي روغ او جـوړ وینـم. نـن ورځ چـې کلـه دغـه ښـوونځي تـه راغلـم، نـو ذهـن تـه مـې د خپلـو زده کـړو یادونـه راغلـل. اوس زمونږ پـه ښـوونځي کـې ډېـر بدلونونـه راغلـي دي، خـو د ښـوونځي دوره مـې لاهـم ډېـره یادېـږي. هر چېرې چـې وم، د خپل ښـوونځي خاطـرې او یادونـه لـه ځان سره لرم.
د نومـوړي لـه دغو خبـرو څخه څرګندېږي چـې هغـه ښـوونکو او ښـوونیزو چـارو تـه ډېـره پاملرنـه کـوي. لـه خپـل ښـوونځي څخـه د لیدنـې پـه تـرڅ کـې رییـس شي جیـن پینـګ هیلـه ښـودله چـې ښـوونکي بایـد د زده کوونکـو پـر وړانـدې د پوهنـې او ابتـکاري مفکـورې د تـر لاسـه کولـو او د فداکارۍ روحیـې د خپرولـو لپـاره لارښـوونکي وګرځـي.
رییـس شي جیـن پینـګ پـه خپلـو خبـرو کـې وویـل چـې کـه یـو کـس یـو ښـه ښـوونکی ولـري، نـو دا بـه د ده نیکمرغي وي. کـه پـه یو ښـوونځي کـې ښـه ښـوونکي وي، نو دا د یوه ښـوونځي افتخار دی. که پـه یـوه ملـت کـې ښـه ښـوونکي وي، نو د دغـه ملت هیله به ژونـدۍ وي. هغه زیاته کـړه چـې د ښـوونکو کارونـه د ښـه سـیرت او شـهرت لرونکـو زده کوونکـو روزل دي.
رییـس شي جیـن پینـګ نـه یـوازې ښـوونکو تـه؛ بلکـې ښـوونیز عدالـت ته هم ډېـره پاملرنـه کـوي. هغـه پـه ۲۰۱٦ کال کـې لـه خپـل پخـواني ښـوونځي څخـه د لیدنـې پـه تـرڅ کـې دې تـه پـه اشـارې سره وویـل، چـې ښـوونیز عدالـت د ټولنیز عدالـت مهـم بنسـټ دی. اړونـدې اداري بایـد هڅـې وکـړي چـې لازیـات وګـړي له ښـوونیز پرمختـګ څخـه ګټـې واخلـي او پـه ټولنـه کـې ښـوونیز عدالـت رامنـځ تـه راکـړي. ښـوونیزې اداري بایـد د ښـوونیزو سرچینـو د غـوره کولـو او د علاقـه داریـو او ښـارونو تـر منـځ د ښـوونیزې سـویې د واټـن د کمولـو لپاره هڅـې وکـړي، پـه تېـره بیـا پـه لـرې پرتـو او بـې وزلـو سـیمو کـې د ښـوونیزو چـارو د پرمختـګ لپاره بـه پانګـه زیاتـه کـړي او لـه بې وزلو سـیمو او زده کوونکـو سره بـه مرسـتندویه سیسـټم تامیـن کـړي، څـو هـر ماشـوم پـر خپـل راتلونکـي بانـدې بـاور ولـري.
د ۲۰۱۸ کال د سـپټمبر په لسـمه نېټه د چیـن د ښـوونې غونـډه پـه بېجینـګ کـې تـر سره شـوه. رییـس شي جین پینګ په دې غونـډه کـې پـر دې ټینـګار وکـړ چـې د سوسیالیسـتي او عـصري هېـواد ابـادي باکیفیتـه ښـوونکو تـه اړتیـا لـري. هـر ښـوونکی بایـد لـه خپلـو کارونـو سره مینه ولـري. کـه یو هېـواد او ملت سمسـور شي او ښـوونیزې چـارې یې پرمختـګ ومومي، بایـد داسـې ښـوونکي ولري چې اخلاقي سـلوک یـې ښـه وي او غنـي پوهـه ولـري. نننـي زده کوونکـي د چینـي ملـت د بیا سمسـورتیا او د چین خوب د رښـتیا کولو لپـاره عمـده ځـواک دی او ښـوونکي د چینـي خـوب جوړوونکـي دي.

# د بین الافغاني مذاکراتو دویمه ورځ؛

## دواړه لوري له مذاکراتو خوښ او د اوربند پر رامنځ ته کولو خبرو ته تیار دي



د بیـن الافغـاني مذاکراتو دویمـه ورځ په هیلـه بښـونکي خـبري کنفرانـس پـای تـه ورسـېده. تېـره ورځ پـه دوحـه کـې د بیـن الافغـاني مذاکراتـو د دوام پـه تـړاو د طالبانـو او افغـان حکومـت د پـلاوي ترمنـځ د تمـاس غونـډه جـوړه شـوې وه او پـه دې کـې د راتلونکـو مذاکراتـو پـر اجنـډا بحثونـه شـوي دي. تـر غونـډې وروسـته د ملـي مصالحـې عـالي شـورا رییـس ډاکټر عبدالله عبدالله له رسـنیو سره پـه خـبرو کـې وویـل چـې لومړنـۍ غونـډه هیلـه بښـونکې وه او د مذاکراتـو روحیـه خورا صمیمـي وه، خو ټینګار یې کـړی چـې خـبرې بـه اوږدېـږي. بلخـوا طالبانـو هـم ویـلي چـې د مذاکراتـو لـه لومـړۍ ورځـې خوښ دي، غونډه ښـه وه او د اوربنـد پـه لار کـې بـه شـته خنډونه لـرې کېـږي.
ورمـه ورځ تـر شـل کلنـې جګـړې وروسـته د لومـړي ځـل لپـاره پـه دوحـه کـې د افغانانـو ترمنـځ د خونـړۍ جګـړې د پـای لپـاره د بیـن الافغـاني مذاکراتـو لـړۍ پیـل شـوه. پـه دغو مراسـمو کـې د نړۍ د ګڼو هېوادونو او مهمو بنسـټونو استازو ګډون کړی و. دوی له افغانانو وغوښـتل چـې ژر تـر ژره په خپلو کـې سره هوکړې تـه ورسـېږي او پـه دغـه هېـواد کـې د څلـورو لسـیزو جګـړې تـه د پـای ټکـی کېږدي.
پـه همـدې تړاو پـرون د دواړو لورو ترمنځ د تمـاس غونـډه وشـوه. افغـان او طالـب پـلاوي د لومـړي ځـل لپـاره مخامـخ سره کېناسـتل او د راتلونکـو غونـډو او د کمېټـو پر فعالیتونو یـې بحثونه وکړل. د ملـي مصالحـې عالي شـورا رییس ډاکټر عبداللـه عبدالله تر دې غونډې وروسـته خبریالانـو تـه وویـل، د سـولې روحیـه او د مذاکراتـو لومـړۍ ورځ هیلـه بښـونکې ده، خـو بیـا هـم د روانـې خونـړۍ جګړې پـای تـه رسـول اوږده موده نیـسي. د ده پـه خـبره: ((هغـه جګـړه چـې شـل کاله یـې دوام کـړی دی، دومـره پـه اسـانه نه ختمېـږي، مـوږ بـه خـبرې کـوو، بحثونه بـه کـوو او دا تمـه بـه نه لـرو چـې پـه دوو ورځـو کـې دې ارو مـرو یـوې پایلـې تـه ورسـېږو)).
د دې ترڅنـګ ډاکټـر عبداللـه عبدالله وایـي چـې اوربنـد او د تاوتریخـوالي کمـول د افغانانـو تر ټولو مهمه غوښـتنه ده او طالبـان بایـد دې مسـئلې تـه متوجـه وي. د ده پـه خـبره، لـه طالبانـو سره یـې پـه جلسـه کـې د اوربنـد پـه تامیـن او دغـه راز د تاوتریخـوالي پـر کمېـدو ټینـګار کـړی او لـه دغـه ډلـې یـې غوښـتي چـې د سـولې د ډاډمنتیـا او ثبـات لپـاره بایـد تـر هـر څـه وړانـدې اوربنـد تـه تیـاری وښـیي. هغـه ویـلي: ((ټـول افغانـان د تاوتریخـوالي کمښـت او اوربنـد غوښـتونکي دي او د اوربنـد مسـئله د خـبرو مهمه موضـوع ده او دی ډاډه دی چـې دواړه لـوري بـه پـر دې موضـوع خـبرې کـوي)).
عبداللـه د خپلـو خـبرو پـر دوام یـو ځـل بیـا ټینـګار وکـړ چـې د جګـړې لـه لارې هېڅـوک هـم بریـا ته نـه شي رسـېدلی، خـو د خـبرو اترو دواړې خـواوې ګټونکې کېـدای شي. نومـوړي دغـه راز ویـلي، دوی د خـبرو پـه خونـه کـې د بهرنیانـو وجـود نـه غـواړي، خـو کېـدای شي پـه ځینـې ناسـتو کـې یـې اړتیـا وي چې په هغـه صورت کـې باید حضور پیـدا کړي.
بلخـوا وسـله والـو طالبانـو هـم د لومـړي ځـل لپـاره اوربنـد تـه تیـاری ښـودلی دی. د دې ډلـې د مذاکـراتي پـلاوي د فرهنګـي کمېسـیون مشر مـلا احمدالله وثیـق وایـي، د مذاکراتـو د لومړۍ ورځـې روحیه سـوله‌ییزه وه او دی ډاډه دی چې دواړه لوري به ښـو پایلو ته سره ورسـېږي. نومـوړي پـه خپلـه تـازه مرکـه کـې ویـلي چـې افغـان حکومـت پـه ټولـو مذاکراتـو کـې پـر اوربنـد ټینـګار کـوي او طالبـان هـم هڅـه کـوي چـې هغـه خنډونـه لـه منځـه یـوسي چـې د اوربنـد د تامینېـدو سـبب شي. ملا وثیـق وایـي، دوی هـم د اوربنـد د رامنـځ تـه کېـدو ملاتـړي دي، خـو داسـې عوامـل شـته چـې د اوربنـد مخنیـوی کـوي او پـه مذاکراتو کـې باید لـه منځـه یـووړل شي. هغـه دا هـم ویلي چـې افغـان حکومـت د موقتـي اوربنـد غوښـتنه کوي، خو طالبـان د یوه دایمي اوربنـد پـه لټـه کـې دي او تمـه ده چـې بحثونـه وربانـدې وشـي.

# اروپا و ترکیه؛ بسیار دور چنین نزدیک

نویسنده: اعظم احمدی

جمهوری ترکیه در یکصد سال اخیر برخوردی دوگانه با غرب داشته است. از سویی سعی کرده با نزدیکی به کشورهای اروپایی و استفاده از فناوری‌هایی غربی بر ضعف‌هایش غلبه کند، اما از سویی دیگر با تجربه فروپاشی امپراطوری عثمانی نگاهی حاوی دودلی و بدگمانی در رویارویی با همسایگان مسیحی اش داشته است. اعظم احمدی، تحلیلگر سیاسی در این زمینه مطلبی برای صفحه ناظران نوشته است.

بی‌شک بسیاری از سیاستمداران ترکیه خود را میراث دار امپراطوری بزرگی می دانند که با دخالت اروپایان از هم پاشید. این احساس بزرگی درسیاستمداران ترک در بازه های زمانی مختلف، به شکل های متفاوت خود را نشان می دهد. علیرغم جایگاه متوسط ترکیه به لحاظ مادی در قیاس با کشورهای بزرگ، سیاستمداران ترکیه برای قرار گرفتن در بین کشورهای بزرگ از هیچ تلاشی فروگذار نبوده و نقش خود درمنازعات بین المللی را هرگز حاشیه ای و کم اهمیت قلمداد نکرده اند. از این رو آنها در رویدادها و منازعات بین المللی به طور فعال شرکت کرده و درپی نظم مورد نظر خود بوده اند. این تلاش ها گاهی به مانند سالهای پس از جنگ جهانی دوم به حاشیه رفته و گاهی چون دو دهه اخیر در سیاست های حزب عدالت و توسعه برجسته شده است.

پس از فروپاشی امپراتوری عثمانی و برآمدن ترکیه، از آنجایی که جمهوریت به تازگی تاسیس شده بود و اقتصاد ورشکسته ای را به ارث برده بود، نمی‌توانیست سیاست خارجی بلندپروازنه ای را تعقیب کند. به همین دلیل توجه سیاستمداران بیشتر به مسائل داخلی معطوف بود. دنبال کردن سیاست های منطقه ای و بین المللی وابسته به موقعیت اقتصادی بهتری بود که بتواند از عهده هزینه های آن بربیاید و بتواند ادغام در سیاست و اقتصاد بین الملل را تسریع بخشد.

با به قدرت رسیدن حزب عدالت و توسعه و بهبود اوضاع اقتصادی، این امر میسر شد و فعالیتهای منطقه ای و بین المللی ترکیه افزایش پیدا کرد. احمد داود اوغلو، نخست‌وزیر پیشین ترکیه که به‌عنوان یکی از تئوریسین های سیاست خارجی حزب عدالت و توسعه، مدتی را هم سکان وزارت خارجه این کشور را بر عهده داشت، در کتاب عمق استراتژیک خود می گوید: «دیپلوماسی خطی وجود ندارد، دیپلوماسی سطحی وجود دارد و آن سطح هم، همه دنیا را دربرمیگیرد.» و بدین شکل رفتار ترکیه در عرصه منطقه ایی و بین المللی را مشروع می داند.

از دیگر سو، موقعیت جغرافیایی ترکیه و همین‌طور میراث تاریخی آن اجازه نمی دهد که این کشور در مرزهای سیاسی خود محصور بماند و درمواجه با رخدادهای منطقه ای و جهانی درحاشیه قراربگیرد. گرچه درپیش گرفتن چنین سیاستی از سوی ترکیه می تواند از الگوهای واقع گرایانه در سیاست بین‌الملل سرچشمه بگیرد ولی گاهی می توان رگه هایی از سیاست های هویتی را درآن مشاهده کرد. از آنجایی که فروپاشی امپراطوری عثمانی حاصل «نقشه های شوم دیگران» نه ضعف های درونی آن قلمداد می شود، این تصور؛ میراثی را در بنیانگذاران ترکیه برجای نهاد که میتوان مدعی شد این میراث نه تنها در بین تکنوکراتها وسیاستمداران ترکیه، بلکه در بین شهروندان آن نیز نسل به نسل منتقل شده است که چیزی جز بی اعتمادی و احساس ناامنی نسبت به دشمنان خارجی نیست. از این رو احساس محاصره شدن توسط دشمنان آنها را به سوی نیروها و امکانات داخلی سوق می دهد. امل آقچالی در مقاله‌ای تحت عنوان «کمالیستهای اوراسیاگرا: گفتمان ژئوپلتیکی نو ظهور در ترکیه»؛ نقش مهاجرانی را که در اوایل شکل گیری جمهوریت به آناتولی آمدند را دربرساخته شدن این احساس محاصره شدگی، مورد تاکید قرار می دهد و معتقد است مهاجرانی که از بالکان، یونان، قفقاز به آناتولی کوچانده شده بودند، از جمله گروههای مهمی هستند که از ویژگیهای لائیک، یکدست و مرکزی بودن دولت حمایت کرده و بیش از دیگران حامی سیاست های آنتی امپریالیستی و مستقل ترکیه به شمار می روند. وفاداری مهاجران جدید آناتولی نسبت به جمهوریت و عدم اعتماد آنان به نیروهای خارجی، ریشه در این حس مهاجرت دارد که بعد از شکل گیری جمهوریت، این ترکیه بود که مرزهایش را بر روی مسلمانان غیرآناتولی باز کرد و به آنها این حس را بخشید که از ترکیه، به عنوان آخرین قسمت از سرزمین مادری که آغوشش را بروی آنان گشوده، بایستی محافظت کرد و از شر دشمنان دور ساخت.

همین تجربه تاریخی بجای مانده از دولت عثمانی، سبب شده است که سیاستمداران ترکیه همزمان دو حس دوستی و نفرت نسبت به کشورهای اروپایی داشته باشند. نقش مداخله گرایانه‌ی کشورهای اروپایی درسقوط امپراطوری عثمانی، باعث شده که سیاستمداران ترک همیشه نوعی از سیاست احتیاط را در ارتباط با این کشورها پیشه کنند. در واقع درحالیکه ترکیه مخالفتی با ارزش ها و تکنولوژی اروپایان ندارد و برای پیوستن به کشورهای اروپایی تلاش می کند، درهمان حین نیز دربرخورد با این کشورها با تردید رفتار میکند.

از این رو است که در مسیرغربی شدن، ترکیه نگرانی های هویتی، تمامیت ارضی و تضعیف هژمونی خود از سوی اروپایان را پنهان نمی کند. یا به تعبیری، ترکیه غرب را برای پیوستن به آن، به عنوان وصال به معشوق و برای نفرت از آن یک دشمن بالقوه می داند (حسن کوسه بالابان، عضویت ترکیه در اتحادیه اروپا: برخورد امنیت فرهنگی، ۲۰۰۲).

این وضعیت را کارا عثمان اوغلو، استاد روابط بین الملل دانشگاه بیلکنت، با باورنخبگان سیاسی مرتبط می داند. زیرا ترکیه به مدت طولانی توسط نخبگانی که غرب و غربی شدن را به‌عنوان یک اصل مهم می دانستند، اداره شده است. کارا عثمان اوغلو معتقد است اگرچه باور به این اصل، غربی شدن و جهانی شدن را درپی دارد، اما درخصوص این باورهم دربین خود نخبگان دیدگاه واحدی وجود نداشته است و هم اینکه این نخبگان، غربی شدن را بیشتر متوجه سیاست های داخلی دانسته اند. یا به بیانی واضح‌تر، نخبگان سیاسی همیشه مایل بوده اند که جامعه ترکیه هرچه بیشتر و سریعتر به مانند غرب بشود، درحالیکه خود ایشان در سیاست خارجی نسبت به کشورهای غربی چندان از خوشبینی و اعتماد برخوردار نبودند.

اما نباید از نظر دور داشت که نخبگان بنیانگذار ترکیه، غربی شدن را به‌عنوان یک استراتژی امنیتی نیز در نظر گرفته بودند. تصور نخبگان لائیک چنین بود که هرچه بیشتر غربی شدن و به مانند غرب بودن می تواند بیشتر امنیت ترکیه را تضمین کند. از آنجا که امپراتوری عثمانی سالیان دراز با اروپایان در تماس بوده و در فروپاشی آن نیز این کشورها نقش محرزی ایفاکرده بودند، نخبگان بنیانگذار جمهوریت می پنداشتند همکاری با کشورهای اروپایی و در کنار آنان بودن می تواند تهدیدات احتمالی از سوی این کشورها را برطرف کند. دوری از خاورمیانه و کشورهای اسلامی نیز برای کاستن از همین تهدیدات احتمالی بود که غرب می توانست منشا آن باشد.

عدالت و توسعه و اروپا

بعد از روی کارآمدن حزب عدالت و توسعه و طولانی شدن پروسه پذیرش ترکیه در اتحادیه اروپا، برخلاف نخبگان لائیک، این بار سیاست خارجی ترکیه نه بر اساس ترس برجای مانده از امپراطوری، بلکه بر اساس تاریخ، جغرافیا و فرهنگ باقی مانده از آن توسط سیاستمداران نورسیده برساخته شد. این دیدگاه تازه سربرآورده در تلاش بوده که ترکیه علاوه بر روابط باکشورهای اروپایی بایستی با هر بازیگر بین المللی که امنیت آنکارا را تضمین می کند به گسترش روابط بپردازد و این روابط باید بر اساس منافع ترکیه شکل بگیرد. بهتر شدن اوضاع اقتصادی ترکیه دست دولت در تعقیب سیاست خارجی مبتنی بر عمق استراتژی ترسیم شده از سوی داوود اوغلو را در دو دهه گذشته بازگذاشت. تغییر سیاست خارجی ترکیه در قبال پیوستن به اتحادیه اروپا نیز در راستای دست یابی به اهداف فوق الذکر می تواند ارزیابی شود. ازاین رو، دوری ترکیه از اروپا در سالهای اخیر و کمرنگ شدن تلاشها برای عضویت در اتحادیه اروپا نتیجه پس زدن آن از سوی غرب نبوده، بلکه برعکس، ترکیه سیاست های اروپا، بخصوص سیاست های آنان در منطقه خاورمیانه را علیه منافع خود ارزیابی کرده و برای محافظت از این منافع، خود سیاست های مستقلی را درپیش گرفته است.

از این نگاه، اهمیت غرب برای ترکیه نه از لحاظ هویتی که از لحاظ استراتژیک و اقتصادی است. این چنین است که دیگر احساس امنیت ترکیه و ترسیم هویت مدرن (غربی شدن) آن با پیوستن به اتحادیه اروپا ضروری قلمداد نمی شود و باور به اینکه ترکیه به تنهایی از عهده آن برخواهد آمد تقویت شده است. نقد «نگاه غرب محور» درسیاست خارجی ترکیه ریشه در احساسات ملی گرایانه آن دارد و حساسیت‌های دینی و ایدئولوژیک آن در اولویت نیست و رهبران حزب عدالت و توسعه به خوبی می دانند، چگونه از این احساسات به نفع خود در سیاست داخلی بهره برداری کنند.

با چنین نگرشی است که سیاستمداران حزب عدالت و توسعه احترام به غرب را تا جایی پیش می برند که در پیشبرد سیاست های منطقه ای و جهانی ترکیه کمک کننده باشد. و گرنه، ترکیه ترجیح می دهد به کشورهای که اگرچه گاهی همراهی نمی کنند ولی مخالفتی با سیاست های آن نیز ندارند نزدیک شود. نتیجه این دیدگاه و تحولات صورت گرفته در بهار عربی به خوبی خود را نشان داد. رسیدن موج حرکت‌های مردمی منطقه خاورمیانه به سوریه، کشوری که با پناه دادن به گروه‌های شبه نظامی مخالف ترکیه سالیانی دراز روابط تنش آلود با ترکیه داشت، فرصتی پیش آورد که با دخالت ترکیه و متحدان اروپایی اش دولتی همسو با سیاستهای ترکیه بر سر کاربیاید که با نادیده انگاشتن این امر و متعاقب آن، تنها گذاشتن ترکیه با میلیون‌ها پناهنده جنگی از سوی متحدان اروپایی، دیگر همسویی ترکیه با سیاست های اروپا نیز انتظاری برباد رفته خواهد بود.

موضع گیری سالهای اخیر اردوغان بیشتر در نشان دادن این مسئله است که دوران قرار گرفتن ترکیه در کنار سیاستها و مواضع غرب به هر قیمتی به سرآمده است و برعکس انتظار دارد آنها همسو با سیاست‌های ترکیه حرکت کنند. در نتیجه چنین انتظار دوطرفه ای در مواقع اختلاف نظر، انتقاد از هر دو سو علیه دیگری بیشتر می شود.

# د چین دفاع وزارت: متحده ایالتونو نړیوال نظم او ثبات له جدي ګواښ سره مخ کړی



د چین دفاع وزارت د امریکا وروستی راپور غندلی او ویلي یې دي چې متحده ایالتونو نړیوال نظم او ثبات له جدي ګواښ سره مخ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا دفاع وزارت د یاد هېواد کانګرېس ته په استولي راپور کې د چین د نظامي ځواک له پرمختګ څخه اندېښنه ښودلې ده.

په دغه راپور کې ویل شوي چې د چین نظامي ځواک په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې دی او دغه څه د امریکا ملي ګټې او امنیت ته ګواښ پېښوي.

خو د چین دفاع وزارت د پنټاګون دغه راپور بې بنسټه بللی او ویلي یې دي چې دوی یوازې د دفاعي موخو لپاره د خپل پوځ پر تجهیز او روزنې کار کوي چې له نړیوال نظم او ثبات سره به ډېره مرسته وکړي.

د چین دفاع وزیر وو کیان زیاته کړې: «امریکا له کلونو راهیسې په پرله پسې توګه نړیوال قوانین ماتوي، نړیوال ثبات یې له ګواښ سره مخ کړی او پر نورو هېوادونو په ناقانونه توګه بندیزونه لګوي».

نوموړي همداراز ویلي چې په تېرو دوو لسیزو کې پر ګڼو هېوادونو د امریکا د بندیزونو له کبله ۸۰۰ زره کسان مړه شوي او د میلیونو نورو انسانانو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی دی. د هغه په خبره: «امریکا د دې پرځای چې پر خپلو ناقانونه کړنو تمرکز وکړي، د چین په قانوني کارونو نیوکې کوي، موږ پر امریکا غږ کوو چې له دا ډول بې بنسټه ادعاوو څخه ډډه وکړي او په دې سره نړیوال نظم او ثبات له نور ګواښ سره مخ نه کړي».

د پنټاګون په دغه راپور کې چې په ۱۵۰ صفحو کې خپور شوی، د چین د پوځ وروستي پرمختګونه بې ساري بلل شوي او ویلي یې دي چې یاد هېواد په پرله پسې ډول د خپلو پوځي وړتیاوو د لوړولو په هڅه کې دی. د سرچینې په خبره، د چین دغه اقدامات د امریکا ګټې او ملي امنیت ته ګواښ پېښولی شي.

په دغه راپور کې وړاندې راغلي چې یاد هېواد د بالسټیک توغندیو د جوړولو په برخه کې په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې دی او له ځمکې څخه هوا ته د توغندیو پرمختللی سیستم یې جوړ کړی دی.

خو چیني چارواکو بیا د امریکا دغه ادعاوې بې بنسټه بللي او ویلي دي چې د امریکا متحده ایالتونو په پرله پسې توګه د نړیوالو قوانینو ماتولو ته دوام ورکړی، چې له کبله یې نړیوال نظم له جدي ګواښ سره مخ شوی.

## د کتـــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### دریم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




د پورتنیو پروژو ترڅنګ ځینې نورې مهمې او سترې سیمه‌ییزې پروژې هم شته، چې د ځینو د جوړېدو چارې پیل شوي او د ځینو نورو د جوړېدو چارې د پیل کېدو په حال کې دي، له هغې جملې څخه د ټاپي د ګازو د لېږد پروژه، د ټوټاپ پروژه، کاسا ۱۰۰۰ پروژه، ټاپ ۵۰۰ پروژه، د چین او پاکستان اقتصادي کریډور، چابهاربندر، د پنځو ملتونو د ریل لارې کریډور، د افغانستان او تاجکستان د ګاز نللیکه، د لاجوردو لویه لار، د پنځو ملتونو د ریل لارو کریډور، د افغانستان د ریل شبکه، له پولو تېرېدلو ترانسپوټي تړون، د ځانګړو اقتصادي زونونو، د څو ډوله ترانسپورت او لوجستیک د اسانتیاوو پروژه، د ترکمنستان – افغانستان او تاجکستان ریل لار او د چین او پاکستان اقتصادي کریډور سترې سیمه‌ییزې پروژې دي چې د بشپړېدو په صورت کې به یې د افغانستان او سیمې سیاسي، ټولنیز او اقتصادي وضعیت او حالات په بشپړ ډول بدلون ومومي . پورتنۍ سترې اقتصادي پروژې به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي او افغانستان به د سیمه‌ییزې همکارۍ په مرکز او میدان بدل کړي. یادې سیمه‌ییزې پروژې د افغانستان لپاره ځانګړې ارزښت او اهمیت لري او بشپړېدل به یې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي. د لیکنې په دې برخه کې پورتنۍ سترې سیمه‌ییزې پروژې په لنډ ډول وڅېړو .

**۱ـ ټوټاپ : Turkmenistan, Uzbekistan, Tajikistan, Afghanistan, Pakistan electricity transfer Project(TUTAP):**

ټوټاپ له مرکزي اسیا څخه افغانستان او پاکستان ته د برېښنا د لېږد یوه مهمه سیمه‌ییزه پروژه ده چې په وسیله به یې پاکستان ارزانه برېښنا ته لاسرسی پیدا کړي او د دې مهمې پروژې عملي کېدل به په سیمه کې د انرژۍ د امنیت له خوندیتوب سره ډېره مرسته وکړي. د ټوټاپ پروژې په وسیله به د ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته انتقال شي او د دې ترڅنګ به تر ۲۰۳۰ زکال پورې د افغانستان لپاره د اړتیا وړ برېښنا هم برابره کړي.  په افغانستان کې د ټوټاپ پروژې اداري چارې د اسیایي بانک له لوري اداره او پرمخ وړل کېږي اسیایي بانک د پروژې د تطبیق په موخه له بېلابېلو هېوادونو او ادارو څخه د مرستو راټولو چارې هم پرمخ وړي .

**۲ـ کاسا ۱۰۰۰: Central Asia and South Asia Electricity transmission and trade Project(CASA ۱۰۰۰):**

کاسا ۱۰۰۰ یا له مرکزي اسیا څخه جنوبي اسیا ته د برېښنا د لېږد پروژه یوه ستره سیمه‌ییزه پروژه ده چې  په وسیله به یې د تاجکستان او قرغزستان برېښنا افغانستان او پاکستان ته انتقال شي.  د کاسا ۱۰۰۰ په وسیله به هر کال له قرغزستان او تاجکستان څخه افغانستان ته ۳۰۰ میګا واټه او پاکستان ته ۱۰۰۰ میګا واټه برېښنا انتقالېږي . کاسا ۱۰۰۰ پروژه د ۱۵ کلونو لپاره ده او کېدای شي ۱۵ کلونه نوره هم تمدید شي . افغانستان به هر کال له کاسا ۱۰۰۰ پروژې څخه له ۸۸ څخه تر ۱۷۵ میلیونو ډالرو پورې عواید ترلاسه کړي او ۱۰۰۰۰۰ تنو ته به کاري فرصتونه رامنځ ته کړي.د اروپا د بیا رغونې او پراختیا بانک یو تاجکستاني شرکت ته ۱۱۰ میلیونه ډالر پور د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د تطبیق لپاره ورکړی دی.  د یادې پروژې په تطبیق او بشپړېدو به۹۹۷.۰۰ میلیونه ډالر لګښت راځي، د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د جوړېدو تړون په ۲۰۱۱ زکال کې د افغانستان، پاکستان، تاجکستان او قرغزستان د استازو ترمنځ لاسلیک شوی او د جوړېدو چارې به یې په ۲۰۲۲ زکال کې بشپړې شي.

**۳ـ د پنځو ملتونو د ریل لارې کریډور**

د پنځو ملتونو د ریل لارو کریډور په وسیله به ختیځه اسیا له جنوبي او مرکزي اسیا سره ونښلول شي او په دې توګه به په سیمه کې د اقتصادي همکاریو او د سیاسي او ټولنیزو اړیکو د پراختیا لپاره زمینه برابر شي د دې پروژې په وسیله به چین د افغانستان، تاجکستان او قرغزستان له لارې د ریل لارې په وسیله له ایران سره ونښلول شي. د پنځو ملتونو د ریل لارې کریډور کې چین، قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او ایران شامل دي د پنځو ملتونو د ریل لارو کریډور د جوړېدو هدف سیمه‌ییزې سوداګرۍ ته پراختیا ورکول او د نویو دندو رامنځ ته کول دي، دغه ریل لارې ۲۱۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري .
**دوام لري...**

# بادغیس

حشمت الله نوري



بادغیس د هېواد د شمال- لوېدیځو ولایتونو په ډله کې راځي او مرکز یې د قلعه‌نو ښار دی. دغه ولایت لوېدیځ ته له هرات، ختیځ ته له فاریاب، سوېل ته له غور او شمال ته له ترکمنستان سره ګډه پوله لري.
دغه ولایت ۲۳۰۰۰ کیلومتره مربع مساحت او شپږ ولسوالۍ لري او د وګړو شمېر یې ۴۳۹۵۰۰ تنه ښودل شوی دی. بادغیس د بادخېز په مانا هم راغلی دی، چې بادونه په کې زیات چلېږي، ځکه نو دغه نوم ورکړل شوی.
بادغیس یو وخت د هپتالیانو تر واک لاندې سیمه بلل کېده، چې د طرخان په مشرۍ یې د اسلام د لښکرو پر وړاندې سخت مقاومت وکړ. د یوه نوم ورکي لیکوال په وینا، بادغیس شاوخوا درې سوه کلي درلودل او تر ټولو مهم او اغېزناک ښار یې دهستان او د بادغیس حکومت په مرکز کوغن اباد کې و.
دغه ولایت په ۱۹۶۲ کال کې د افغانستان د سیاسي اداري وېش په موده کې د هرات ولایت یوه برخه وه. دغه اړیکه له پخوا زمانو څخه اوږده ریښه لري. د بادغیس په بازارونو کې داسې سوداګر او صنعت کاران شته، چې په اصل کې د هرات اوسېدونکي دي او یا یې هم د هرات ټول فرهنګ ساتلی دی.
په بادغیس کې حنظله بادغیسي، چې له اسلامه وروسته لومړنی شاعر دی، دې نړۍ ته سترګې غړولې دي.
بادغیس ولایت مواصلاتي لارې او کافي اوبه نه لري، نو له همدې امله دی چې په هېواد کې یې د نورو ولایتونو په پرتله د وګړو شمېر کم او دغه راز د دغه ولایت د پراختیا او پرمختګ درجه په ټیټ حالت کې ده.

اقلیم

د دغه ولایت اقلیم وچ دی، په ژمي کې پکې واوره اوري او په اوړي کې هم ګرم موسمي بادونه لري.
بادغیس د خپل غرنیز جوړښت له امله په ځانګړي ډول په سوېل- لوېدیځو او سوېل- ختیځو برخو کې ډېرې ښایسته طبیعي منظرې لري، چې یوه ښه نمونه یې د سبزک بند دی او دغه ځای د ارچې د ونو په منځ کې پټ او د اوبو ډېرې چینې لري.
دغه راز د بادغیس ولایت بله طبیعي منظره د جوند په دره کې ډېرې ځایونه ولاړې اوبه دي، چې د «پوده» اوبو په نوم هم شهرت لري. د مرغاب سیند هم چې د هېواد له ډکو بهېدونکو سیندونو څخه دی، د دغه ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې تېرېږي.
د زرمست بند هم د تبعي منظرو یوه بله نمونه ده، چې ډېره په زړه پورې هوا لري، خو له دې ټولو ښایسته منظرو سر سره بیا هم افغان ولسمشرانو او واکمنانو دغه ولایت ته کومه ځانګړې پاملرنه نه ده کړې.
د دغه ولایت پسرلی ښایسته او افسانوي ښکلاګانې لري او د غرونو شنې لمنې یې د لاله په زېړو او بنفشو رنګونو ښکلې شوې وي.

اداري واحدونه

دغه ولایت د مرکز په ګډون اته اداري واحدونه لري: قلعه‌نو (مرکز)، اب کمري، جوند، غورماچ، مقر، قادس او مرغاب.

اقتصاد

د دغه ولایت اقتصاد پر زراعتي محصولاتو ولاړ دی. کرنه یې ډېره برخه للمي بڼه لري او له مډرنو او تخنیکي توکو ډېره کمه ګټه پورته کېږي. کرنیز حاصلات یې غنم، جوار، نخود، زیره (زنګۍ)، کونځلې، هندوانې، خټکي او نور دي. بادغیس له لرغونو زمانو راهیسې تر اوسه د خراسان د ګودام او د افغانستان د لوېدیځې حوزې په نوم شهرت لري.
د دې سیمې خلکو دویم کسب مالداري او د قره قل پسونو ساتل دي، له یاد ولایته هر کال پسونه، د قره قل پوستکي، وړۍ، کُرک او کورت د هېواد نورو ولایتونو او له هېواده بهر صادرېږي.
د بادغیس د زیارایستونکو خلکو یو بل کسب د غالیو اوبدل دي، چې ډېرى وخت په کورونو کې د ښځو لخوا اوبدل کېږي. د بادغیس غالۍ په هېواد او بهر کې ځانګړې نوم لري، چې په ۱۳۵۰ لمریز کلونو کې دغو غالیو د امریکا د فلادیلفیا ښار او د توکیو په نړیوالو نندارتونونو کې لومړی مقام ګټلی و. د بادغیس د غالیو اوبدلو موسسې «د بادغیس غالۍ اوبدلو شرکت» په نوم تر ۱۳۷۱ کلونو پورې، چې دفتر یې په کابل ښار کې و، شتون درلود، خو د مجاهدینو تر منځ په خونړیو کورنیو جګړو کې یې د نورو اقتصادي بنسټونو په څېر خپل دفتر له پولې هاخوا ولېږداوه، چې اوسمهال هم د سمرقند په ښار کې په همدغه نوم فعالیت لري.
پسته د دغه ولایت له مهمو محصولاتو ګڼل کېږي، چې هر کال ترې خلک او دولت میلیاردونه افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. د بادغیس د پستو ځنګلونه د هېواد په کچه تر ټولو لوی ځنګلونه دي، چې شاوخوا ۹۵ زره هکتاره ځمکه یې نیولې ده او دولت هم دغه باارزښته وچې مېوې ته ډېره کمه پاملرنه کړې ده. ځکه د دغه ولایت ډېرى بې وزله خلک د ژمي لپاره لرګي له دغو ځنګلونو څخه د ونو له وهلو څخه ترلاسه کوي او دغه راز دولت د دغو ونو د ډېرېدو لپاره هم کوم پروګرام نه لري.

تاریخي ځایونه

درست د قلعه‌نو ښار په څو سوه مترۍ کې د هوایي ډګر سوېل خوا ته په مخکینیو کلونو کې د غره د راښویېدو له امله د بامیانو د طاقونو په بڼه څو طاقونه جوړ شوي دي او که د همدغه غره په لمنه کې د ختیځ او لوېدیځ لوري ته کاوش تر سره شي، نو ډېرې لاسته راوړنې به ولري او دغه امکان هم لري، چې دغه طاقونه ښایي له اسلامه مخکې دورو پورې اړوند وي.
د قلعه‌نو ښار لوېدیځ لور ته په ۷۰ کیلومترۍ کې د کلا نریمان په نوم یو مشهور حصار پروت دی، چې ډېر حیرانوونکې او لرغونې ودانۍ لري. غبار، ((افغانستان د تاریخ په اوږدو کې)) په خپل کتاب کې دې کلا ته د کالیون کلا نوم ورکړی دی. یوهبله مشهوره کلا چې د کالیون (نریمان) د خور په نوم هم مشهوره ده، د قادس ولسوالۍ په اړوند سیمو کې ودانه شوې ده، چې په ورته بڼه یې د مغولیانو پر وړاندې خپل مقاومت وښود، چې له همدې امله د پیوار کلا په نوم هم یادول کېږي. د سیمې خلکو له یادو دواړو ځایونو په تېرو کلونو کې لرغوني اثار را ایستلي دي، چې بیا د سیمه ییزو قاچاق وړونکو لخوا پاکستان ته قاچاق او له هغه وروسته خرڅ شوي دي.

مشاهیر

حنظله بادغیسي، فضل‌احمد پیمان، سمنبو بادغیسي، معلم نېک محمد خان، احمد بن عبدالله خجستاني، ابوبکر، وسیمه، بسم الله بسمل، عرفاق، سمنګو بادغیسي او نقیب الله اروین د دغه ولایت مهم شخصیتونه دي.

کرنه

د دغه ولایت اقتصاد پر زراعتي محصولاتو ولاړ دی، کرنه یې د للمي بڼه لري او له مډرنو او تخنیکي توکه ډېره کمه ګټه پورته کېږي. کرنیز حاصلات یې غنم، جوار، نخود، زیره (زنګۍ)، کونځلې، هندوانې، خټکي او نور دي. بادغیس له لرغونو زمانو راهیسې تر اوسه د خراسان د ګودام او د افغانستان د لوېدیځې حوزې په نوم مشهور و.
د دې سیمې د خلکو دویم کسب مالداري او د قره قل ډوله پسونو ساتل دي، له دغه ولایته هر کال پسونه، د قره قل پوستکي، وړۍ، کُرک او کورت د هېواد نورو ولایتونو او له هېواده بهر صادروي. د دغه ولایت کرنې ته ملخان ډېر زیان رسوي.

رسنۍ

په بادغیس کې له دولتي ټلوېزیون پرته چې ملي او سیمه ییز پروګرامونه خپروي، د حنظله په نوم یوه راډیو هم ځینې خپرونې لري.
د «بادغیس اینې» په نوم یوه میاشتنۍ چاپي خپرونه هم په دې وروستیو کې خپل فعالیت پیل کړی دی. د مشعل هدایت میاشتنۍ، د بادغیس ولایت د علماوو شورا نشریه ده، چې هره میاشت له چاپه راوځي، د صدای بادغیس میاشتنۍ او د ښځو د خورشید مجله خپل فعالیت پر مخ وړي.

پوهنه

د دغه ولایت د پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو له مخې، په بادغیس کې ۴۶۰ ښوونځي فعال دي، چې ۸۰ یې لیسې او پاتې نور یې ابتدایه او منځنۍ ښوونځي دي. په دغه ولایت کې ۱۲۰ زره زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې نجونې دي.
په یاد ولایت کې د کرنې یوه مسلکي لېسه او د قابلګۍ یو انسټیټیوټ هم فعالیت لري.

کلتور

دغه ولایت د تاریخ له نظره ډېر لرغونی فرهنګ لري او حنظله بادغیسي په افغانستان کې د دري ژبې لومړنی شاعر پاتې شوی دی. لکه څرنګه چې بادغیس له شاته پاتې او د درېیمه درجه ولایتونو له ډلې څخه دی، نو دې ته په کتو په دغه ولایت کې فرهنګي فعالیتونه هم کمرنګه دي. په بادغیس کې له دولتي ټلوېزیون پرته چې ملي او سیمه ییز پروګرامونه خپروي او دغه راز د حنظله په نوم یوه راډیو هم خپلې خپرونې کوي. په دغه ولایت کې فرهنګي او ټولنیز بنسټونه ډېر مروج نه دي.

ورزش

د دغه ولایت د المپیک امریت د معلوماتو له مخې، د یاد ولایت په بېلابېلو ټیمونو کې شاوخوا ۳ زره ورزش کاران غړیتوب لري او رسمي سیالۍ تر سره کوي.
دغه راز په بادغیس کې فوټبال، والیبال، دوش او باسکټبال لوبې ډېر مینه وال لري او همدارنګه رزمي لوبې لکه تکواندو، جودو، کاراته، پهلواني او نورې ډېرې لوبې مروجې دي او په دې وروستیو کې د کرکټ لوبې هم ځینې مینه وال پیدا کړي دي.

همیانی

# وېره مو باید د پرمختګ مخه ونه نیسي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ډېری له موږ څخه له دې چې وېرېږو هسې نه داسې یوه پېښه رامنځ ته شي چې په اړه یې هېڅ هم نه شو کولای او په پایله کې له درد او ځور سره مخ کېږو، هڅه کوو څو له هغه پېښو او حالاتو څخه لرې والی غوره کړو چې کنټرول او واک یې زموږ په لاس کې نه دی. هڅه کوو خپل وخت په داسې ځایونو کې تېر کړو چې هلته د ارامۍ او راحت احساس کوو او په دې ډول سره فکر کوو چې ګواکې د پېښو او حالاتو واګې مو په لاس کې اخیستي دي. خو د دې ډول تګلارې پایله پرته له دې چې د خپل ژوند په بڼه او کیفیت کې مو محدودیت رامنځ ته کړی وي، بله څه نه ده. موږ باید تل پر مخ ولاړ شو څو ځان په داسې حالاتو کې ځای پر ځای کړو چې نه پوهېږو څه وکړو، نه پوهېږو چې پېښې څه مانا او مفهوم لري او نه پوهېږو چې ایا د ارامتیا احساس لرو او که نه، خپلې وړتیاوې کشف او وپېژنو. په داسې حالاتو او موقعیتونو کې خپل ځان ته په لوړه کچه وده ورکوو او د یو انسان په چوکاټ کې د خپل شته والي مانا او مفهوم لاسته راوړو او همدا موقعیت دی چې زموږ شخصیت او ربښتینولي ربښتینې بڼه پیدا کوي.

کله داسې هم پېښېږي چې موږ د ځان لپاره موخې ټاکو، په خپل ذهن کې هیلو ته وده ورکوو او یا هم د خپل پرمختګ لپاره نقشې جوړوو او هغه مهال د دې هر څه لپاره لاس پکار کېږو، خو حالت هغسې چې موږ یې غواړو، پر مخ نه ځي. ډېری کسان په داسې حالت کې له وېرې، غوسې او د ځورېدو یا ناکامۍ له احساس سره مخ کېږي او د داسې یو کس په لټه کې کېږي څو خپل ګناهونه او تېروتنې د هغه پر غاړه واچوي. خو زه پر دې باور یم چې موخې ته نه رسېدل زموږ د نقشې یوه برخه او د ژوند لوبه ده او دا د دې لامل کېږي څو له بل هر وخت څخه ډېر په خپل ګرېوان کې وګورئ، خپل ځان لا ډېر وپېژنئ او له خپلو هغو ربښتینو وړتیاوو او استعدادونو څخه چې ستاسو په وجود کې نغښتي دي، د یو انسان په توګه ګټه واخلئ.

زما په باور خدای پاک هم زموږ د وړتیاوو او استعدادونو له ښودلو او له هغوی څخه د ګټې اخیستلو سره مینه لري. همدارنګه زه پر دې باور یم چې ستاسو د خوښۍ وړ پېښې نه رامنځ ته کېدل او کارونه ستاسو له خوښې سره سم پر مخ نه تلل دا مانا نه لري چې ګواکې دغه پېښې او کارونه به هېڅکله ستاسو له خوښې سره سم سرته ونه رسېږي، بلکې دا په اصل کې ستاسو د لا ژمنتیا او مبارزې لپاره یوه ازموینه ده، هغه ازموینه چې ستاسو د وجود او فکر د ګڼو ابعادو د پراختیا او ودې په موخه طرحه شوې ده.

دا چې کارونه مو ستاسو له خوښې سره سم پر مخ نه ځي، اړینه نه ده چې ناهیلي او له هر څه لاس په سر شئ. که چېرې بیا بیا هڅه ونه کړی او خپل مسوولیت ادا نه کړی، هغه څه چې په خپل ذهن کې مو وده ورکړې ده، هېڅکله به پر واقعیت بدل نه شي. موږ باید پر دې پوه وو چې د لارې په اوږدو کې به له ډېرو لوړو ژورو او خنډونو سره مخ کېږو او له دې هر څه سره سره باید بیا هم له پرمختګ کولو څخه لاس وانه خلو.

کېدای شي وپوښتی چې زه څه ډول کولای شم په هغه نړۍ کې چې هره شېبه د بدلون په حال کې ده، له پوره ډاډ او اطمېنان سره پر مخ ولاړ شم؟ هغه نړۍ چې د هر ډول هڅو او غوره کارونو له تر سره کولو سره سره بیا هم خپلې موخې ته نه رسېږم؟ څه ډول کولای شم په داسې یوه نړۍ کې ژوند وکړم چې د یوې کوچنۍ پېښې د رامنځ ته کېدو په پایله کې زه خپله دنده او مسلک له لاسه ورکوم؟ یا داسې یوه طبیعي پېښه کېږي چې زما کور او ژوند ټول له خاورو سره خاورې کوي؟ یا یوه اسماني ټکه را پرېوزي او یا هم یوه ناروغي هر څه را څخه اخلي؟ څه ډول کولای شم چې دا هر څه وزغمم او خپلې ټاکلې موخې ته ورسېږم؟

ځواب دا دی، باید پوه شی هغه څه چې تاسو یې د مهارولو او کنټرول واګې په لاس کې اخیستلای شی، د پېښېدونکو پېښو او حالاتو مانا او مفهوم دی، نه په خپله پېښې او رامنځ ته کېدونکي حالات. د ژوند راز په همدې حقیقت کې نغښتی دی، ځکه د هرې هغه پېښې مانا او مفهوم ټاکل چې ستاسو په ژوند کې رامنځ ته کېږي، ستاسو په واک کې دی. تاسو یاست چې د خپل ژوند د پېښو مانا او مفهوم ټاکئ. البته په دې شرط چې په دې برخه کې ځیرکانه عمل وکړئ او اجازه ورنه کړئ څو نور تاسو ته در زده کړي چې څه ډول فکر وکړی.

اجازه راکړئ چې په دې برخه کې د خلکو د چلند په اړه یوه بېلګه وړاندې کړم. ډېر کله موږ د نورو د چلند او کړنو تر اغېزې لاندې راځو. فکر کوو چې ګواکې زموږ کړنې ناسمې او نا مناسبې دي او هغه څه چې نور یې تر سره کوي، وړ او ګټور چلند دی. خو پام مو وي چې د نورو کړنې او اعمال د تل لپاره سم نه دي، اړینه نه ده چې د نورو په خاطر خپل د پام وړ نظریات له پامه وغورځوی. دا سمه ده چې سلا او مشوره کول غوره کار دی، خو د کړنو د تر سره کولو لپاره باید له وړ کسانو سره سلا او مشوره وشي، پام مو وي چې ډېر کله خپل نظر پکار واچوئ او د غوره موخو د لاسته راوړلو لپاره د خپل زړه اواز ته غوږ ونیسئ. که چېرې د خپلو کړنو په ترڅ کې له شک او دوه زړیتوب سره مخ شوی، له وړ کسانو سره سلا وکړئ او له غوره تګلارو څخه په کار اخیستو خپل کارونه پر مخ بوځئ.

د ژوند او ورځنیو فعالیتونو په اړه ستاسو انګېزه څه ده؟ خوښي؟ بې موخې او بې مانا ژوند کول؟ او که له هیلو ډک او د یوې ټاکلې موخې د لاسته راوړلو لپاره پر ګڼو مناسبو تګلارو ولاړ ژوند کول؟

د انګېزې کلمه په اصل کې د پر مخ بېولو او هڅولو په مانا ده. څه شی ستاسو د هڅونې او پرمختګ لامل کېږي؟ څه شی ستاسو چلند ته لوری ورکوي؟ په ژوند کې پر څه شي باندې ډېر ټینګار کوی؟ ایا ستاسو د خوښۍ او خوشالۍ احساس ستاسو له انګېزې ربښه اخلي او که د موخې د لاسته راوړلو لپاره مو تګلاره همدا ده؟ ایا له ژوند کولو څخه ستاسو موخه دا ده چې د یو غوره شخصیت د جوړېدو لپاره رسالت او مسوولیت پر غاړه لرئ؟ ایا غواړئ چې په ټوله کې له ژوند کولو څخه یوه ټاکلې موخه ولرئ او د یوې پیاوړې انګېزې له مخې پر مخ ولاړ شئ؟

## شنونکي: د سولې په مذاکراتو کې اختلافي مسایل شته، خو سوله د دواړو خواوو توافقي ټکی دی

د چارو شنونکي وایي چې اساسي قانون، د ښځو حقونو، بیان ازادۍ او د حکومت څرنګوالی او اوربند به د افغانانو ترمنځ د سولې په خبرو کې اختلافي ټکي وي، خو «سوله» د دواړو لورو توافقي ټکی دی.

د دواړو لورو ځینې سرچینې او د چارو شنونکي دا ټول تمه لري چې اختلافي ټکي به د خبرو له لارې حل شي او د افغانانو ترمنځ د سولې خبرې به مثبته پایله ولري.

د راپورونو له مخې، په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو د پرانیستې له رسمي مراسمو وروسته د دواړو لورو ترمنځ د پېژندګلوۍ په ناسته کې یوه ګډه کمېټه جوړه شوه، څو د سولې خبرو د رسمي پیل پر څرنګوالي، د خبرو پر اصولو، د خبرو لپاره د اسانتیاوو برابروونکو پر څرنګوالي، د ګډې دارالانشاء پر جوړولو او د خبرو



پر اجنډا بحث او توافق وکړي او له هغه وروسته د دواړو لوریو د مرکچي پلاوو ترمنځ مخامخ خبرې او بحثونه پیل شي.

په ورته وخت کې د چارو شنونکي وایي چې د دواړو خواوو ترمنځ اختلافي موضوعات شته، «سوله» د دواړو لورو توافقي ټکی دی او باید لومړیتوب ورکړل شي.

د سیاسي چارو شنونکی احمد سعیدي وایي، هر څومره چې د حکومت او طالب مرکچیانو ترمنځ مشترک (توافقي) موضوعات زیات وي، ژر به یوې پایلې ته ورسېږي او که اختلافي موضوعات زیات شول، بیا به خلک د سولې ارمان ته د رسېدو لپاره نور هم سرګردانه کړي. د ده په وینا، د سولې د بین الافغاني مذاکراتو پیل ښیي چې سوله د دواړو لورو ترمنځ توافقي ټکی دی.

خو هغه زیاتوي چې حکومت به د بین الافغاني خبرو پر مهال په جمهوریت، شته لاسته راوړنو، دایمي اوربند او د اساسي قانون پر ساتنه ټینګار وکړي، خو طالب لوری به د شته جمهوري حکومت پر انحلال، د اسلامي امارت پر ټینګښت، د وسله والو ځواکونو پر تجزیې او په نظامي او نورو برخو کې د طالبانو او د هغوی پلویانو پر پراخ ګډون ټینګار وکړي. د هغه په اند، دغو اختلافي موضوعاتو ته په پام تمه نه کېږي چې دولت او طالبان په لومړۍ او دویمه ناسته کې پایلې ته ورسېږي.


د سیاسي چارو شنونکی محمد حسن حقیار هم وایي چې سوله د دواړه لوریو توافقي ټکی دی، خو هغه زیاتوي چې اساسي قانون، د ښځو حقونو، بیان ازادۍ او د حکومت څرنګوالی به د دواړو لوریو تر منځ اختلافي ټکي وي؛ ځکه چې طالبان غواړي په دې برخه کې د اسلامي اصولو په رڼا کې بدلونونه راشي.

## خلیلزاد: امریکا هېچا ته اجازه نه ورکوي چې په افغان سوله کې د ملي ګټو پرځای شخصي ګټې وپالي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې د بین الافغاني مذاکراتو ماتې د امریکا لپاره د منلو وړ نه ده او د افغانستان کړکېچ ته باید یوه حل لاره پیدا شي.

خلیلزاد ګوانښ کوي چې امریکا به اجازه ور نه کړي چې په افغانستان کې د ملي ګټو په پرتله شخصي ګټو ته لومړیتوب ورکړل شي. هغه زیاته کړې، که د افغانستان ملي ګټو ته تر شخصي ګټو لومړیتوب ورکړل شي، روانې خبرې به ښه پایله ولري.

د هغه په خبره: «د مذاکراتو ماتې د منلو وړ نه ده او د هرې ستونزې لپاره حل لار شته، او باید حل لاره پیدا شي. موږ حاضر یو چې مرسته وکړو، په هغه صورت کې چې د هېواد ګټې په لومړي سر کې وي او شخصي ګټې په لومړي سر کې نه وي.»



نوموړي زیاته کړې: «زه ډاډ درکوم چې یوه حل لاره پیدا کېږي او موږ اجازه نه ورکوو چې شخصي ګټې په لومړیتوب کې وي او دا د افغانستان له خلکو سره د امریکا ژمنه ده.»

زلمي خلیلزاد له یوې افغاني خصوصي رسنۍ سره په ځانګړې مرکه کې ویلي چې په افغانستان کې ځینې کسان او دغه راز په سیمه کې ځینې هېوادونه د خپلو ګټو لپاره له طالبانو سره تر سولې اوسنۍ شرایط غوره ګڼي.

هغه له افغانستانه د امریکایي ځواکونو بشپړ وتل یو ځل بیا د افغانانو تر منځ د مذاکراتو په بریالیتوب پورې تړلي بللي دي. دغه لوړپوړي امریکایي ډیپلومات زیاته کړې چې فکر نه کوي طالبان دې ډېر ژر عمومي اوربند ومني، خو ښایي تاوتریخوالی کم کړي.

خلیلزاد ویلي: «همدومره وایم دننه په افغانستان کې ځینې کسان دي چې اوسنۍ شرایط غوره ګڼي... او ځینې کسان دي چې غواړي په جګړه کې امریکا ښکېله وساتي چې امریکا بیه پرې کړي او ځینې هم شته چې خپلې سیمه ییزې سیالۍ په افغانستان کې ترسره کوي.»

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,٦۵ |
| € | ۸۹،٦۰ |
| Rp. | ۴۵۹ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷،۳۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

مرستیال: شفیق امیرزی

اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۴مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۴مه | ۵۹۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۱ | ۳۷ | ۳۱ |
| ۱۵ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۷ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۲ | لمر ختل ۰۵:۳۵ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۲۲ | ماښام ۰٦:۰٤ | ماخوستن ۰۷:۲۸


## نړۍ



**د چین دفاع وزارت: متحده ایالتونو نړیوال نظم او ثبات له جدي ګواښ سره مخ کړی**

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونو ته رسېدلي دي



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر نږدې ۲۹ میلیونو کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۹۲۵ زره او ۲۷۲ کسان مړه شوي او نږدې ۲۱ میلیونو تړي بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ په امریکا کې د یاد ویروس مثبتې پېښې له ٦.٦۷ میلیونو اوښتې او د کرونا له کبله ۱۹۸ زره او ۱۴۸ امریکایان مړه شوي دي.

په ورته وخت کې په امریکا کې د حساسیت او اخیستونکو ناروغیو د ملي انستیتیوت مشر ډاکتر انتوني فاوچي ویلي، چې د ولسمشر ټرمپ له دې خبرې سره موافق نهدی چې امریکا د کرونا وبا اړخ ته کړې ده. فاوچي ویلي چې دی ځکه د ټرمپ له خبرې سره موافق نهدی چې ارقام لا هم ډېر خواشینوونکي دي.

نوموړي له یوې ټلوېزیوني شبکې سره په مرکه کې ویلي، هغه وضعیت ته چې له کرونا وبا مخکې و، د رسېدو لپاره ښایي د ۲۰۲۱ میلادي کال تر پایه انتظار ته اړ شو. هغه همداراز خبرداری ورکړی چې د هوا له سړېدو او د ژمي له راتګ سره به ښایي د کرونا پېښې نورې هم ډېرې شي.

## لاوروف: د لوېدیځ تازه احتمالي بندیزونه به بې ځوابه پاتې نه شي

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف خبرداری ورکړی چې د لوېدیځ احتمالي بندیزونو ته به سخت ځواب ورکړي.

نوموړي له یوې روسي رسنۍ سره په تازه مرکه کې ویلي چې لوېدیځ هېوادونه په پرله پسې ډول نړیوال قوانین ماتوي او پر نورو هېوادونو د درناوي د اصلیت خلاف، ناقانونه بندیزونه لګوي چې په خبره یې، دا کړنې نور ورته د منلو نه دي. لاوروف دغه راز خبرداری ورکړی که لوېدیځ هېوادونه پر روسیې نوي بندیزونه ولګوي، بې ځوابه به پاتې نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې جرمني ادعا وکړه چې د روسیې حکومت د اپوزیسون د مشر الکسي ناوالني د مسمومېدو په پېښه کې لاس لري. جرمني ویلي، چې دوی له خپلو متحدینو سره پر مشورو بوخت دي، ترڅو پر روسیې نوي بندیزونه ولګوي. تر دې وړاندې د کرېملین ویاند دیمتري پېسکوف هم خبرداری ورکړی و چې د جرمني هر ډول پارونکی اقدام به ناوړه پایلې ولري. نوموړي د ناوالني په پېښه کې د روسیې د حکومت لاس لرل رد کړي او ویلي یې دي چې تیار دي په دې تړاو له جرمني او نورو هېوادونو سره په ګډه څېړنې وکړي.

## خالد: با آغاز مذاکرات در وضعیت جنگی تغییرات نیامده و حملات بیشترشده است



سرپرست وزارت دفاع افغانستان می گوید، آن چه مردم و دولت افغانستان امید داشت و شرایط در مذاکرات صلح بود تا حال عملی نشده است و خشونت ها نیز کاهش نیافته است.

این درحالیست که گفتگوهای صلح میان افغانان سه روز پیش در قطر آغاز شد. بر اساس گزارش‌ها در اولین روز آغاز گفتگوهای صلح- بیش از صد تن در درگیری ها در ولایت های مختلف کشور کشته و زخمی شده بودند.


اسدالله خالد سرپرست وزارت دفاع ملی که دیروز به مشرانو جرگه فرا خوانده شده بود، نیز در سخنرانی در این جرگه گفت که با آغاز مذاکرات در وضعیت جنگی تغییرات نیامده و حملات بیشتر شده است. او افزوده است: «چیزی که مردم افغانستان و شما بزرگان و ما امید داشتیم و شرایط ما بود، عملی نشده است.»

اما وی اظهار امیدواری کرد تا گفتگوهای صلح به نتیجه مطلوب دست پیدا کند. سرپرست وزارت دفاع ملی در اشاره به اعضای جرگه گفت: «یک پیشنهاد دارم، اگر شما می خواهید که با جزئیات صحبت بکنم چون شرایط نیز حساس است و مذاکرات جریان دارد، نشست را سری بسازید.»

سپس محمدعلم ایزدیار نایب اول مشرانو جرگه که ریاست نشست دیروز این جرگه را برعهده داشت، پیشنهاد سرپرست وزارت دفاع ملی را به رای گذاشت و اعضای حاضر در جرگه با اکثریت آراء موافقه کردند تا نشست سری شود.

## ژوند


## له کوره کار؛ اپلیکېشنونه جوړ کړئ



د هر کار لپاره له دې وروسته اپلیکېشن اړین دی. که تاسو نن دغه کار ونه کړئ، نو ډاډه اوسئ چې سبا یې بل څوک کوي. د اپلیکېشنونو جوړول یو نوی صنعت دی چې د پرمختګ په حال کې دی. د څېړنو له مخې، یوازې په ۲۰۱۴ کال کې آیفون کمپنۍ د اپلیکېشن جوړولو په برخه کې ۴۰۰۰ کسان پر دندو ګومارلي وو. کېدای شي د کوډونو جوړول په لومړي سر کې یو څه سخت وي، خو کله مو چې پروګرام لیکل زده کړل، کولی شئ په اسانۍ سره اپلیکېشن جوړ او خرڅ یې کړئ. کېدای شي همدا درته د یوه لوی کاروبار پرانیستلو لپار دروازه شي. په نوره نړۍ کې د اپلیکېشنونو کارول او جوړول د خلکو د ژوند یوه برخه ګرځېدلې ده. که تاسو بهر ته ولاړ شئ، د همدې اپلیکېشنونو له لارې کولی شئ د ځان لپاره ټکسي ونیسئ، هوټل کې کوټه کرایه کړئ، انلاین توکي وپېرئ، لاره پیدا کړئ او په سلګونه داسې نور کارونه. په پښتو کې متل دی چې وایي، له خوشي کېناستو د قروتو چیچل هم ښه دي.

## سامسُنګ رسماً ګلکسي زي فولډ۲ معرفي کړ

که څه هم سامسُنګ د ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ ځیرکو موبایلونو معرفي کولو رسمي غونډه کې د ګلکسي زي فولډ۲ په اړه هم لږ معلومات وړاندې کړل، خو اوس یې رسماً دغه قاتېدونکې مخ‌پاڼه لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړی دی. ګلکسي زي فولډ۲ د تېر کال له ګلکسي فولډ څخه په هره برخه کې ډېر غوره، پیاوړی او پرمختللی دی. تېر کال د ګلکسي فولډ بهرنۍ مخ‌پاڼه ۴,٦ انچه او داخلي مخ‌پاڼه له پرانیستلو وروسته ۷,۳ انچه وه، خو سږکال د دغه ځیرک موبایل بهرنۍ مخ‌پاڼه ٦,۲ انچه ده چې تر پرانیستلو وروسته په ۷,٦ انچه ټبلېټ بدلېږي. بهرنۍ مخ‌پاڼه یوازې ٦۰ هرتز ریفریش ریټ څخه ملاتړ کوي، خو اصلي ۷,٦ انچه ستره مخ‌پاڼه بیا ۱۲۰ هرتز ریفریش ریټ څخه د ملاتړ وړتیا لري. د دغه ځیرک موبایل هغه برخه کې چې مخ‌پاڼه نه لري، درې کامرې ورکړل شوې دي چې ۱۲ مېګاپکسله اصلي کامره، ۱۲ مېګاپکسله ټېلي فوټو لنز او ۱۲ مېګاپکسله الټراوایډ انګل لنز په کې شامل دي. د ګلکسي زي فولډ۲ بیه ۲۰۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې، چې ځینو هېوادونو کې به یې بیه د مالیاتو په پام کې نیولو سره تر دې هم لوړه وي.



د (ATM) یا صرافی خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخېستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پېرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو (ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزیزي بانک محترم پېرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګټنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.
عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پېرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af
1515

عزیزي بانک
Azizi Bank

